قضا نمازوں کا طریقہ (پشتو)

# د قضا نمونځونو طريقه (حنفی)

سحر
ماسپښين
مازديگر
ماښام
ماسختن


شیخ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی حضرت علامہ مولانا ابو بلال

**محمد الياس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتہم العالیۃ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم مدینہ بقیع ومغفرت

د رسالي نوم: د قضا لمونځونو طريقه (حَنَفِي)

اول ځل: ..........................................

تعداد: .....................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالي د چاپ کولو اجازت نشته

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ**

که د کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمي وي يا په بائنډِنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د قضا لـمونځونو طريقه (حَنَفِي)

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه دا رِساله ''قضا نمازوں کا طریقہ'' په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فيضانِ مدينه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدينه کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: translation@dawateislami.net

# فهرست

## د قضا لـمونځونو طريقه (حَنَفِی)


د دُرود شريف فضيلت ........................................ 1
د جَهَنَّم خوفناكه كنده ........................................ 2
د ګرمۍ نه به غر وِيلي شي ........................................ 2
د سر چقيدو سزا ........................................ 2
د زرګاؤ كلونو د عذاب حقدار ........................................ 3
په قبر كښې د اور شُعلے ........................................ 4
كه لـمونځ ادا كول ترينه هير شي نو .....؟ ........................................ 4
كه اِتِّفاقاً ئې ستركې اونه غړيدې نو .....؟ ........................................ 5
په مجبورۍ كښې به د اَدا ثواب حاصل شي او كه نه؟ ........................................ 5
د شپې په آخرۍ حصّه كښې اوده كيدل څنګه دي؟ ........................................ 6
د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدل ........................................ 6
د اَدا، قضا او واجِبُ الاِعاده تعريفونه ........................................ 7
د توبه درې اركان دي ........................................ 8
اُوده كس د لـمانځه د پاره را بيدارول كله واجب دي؟ ........................................ 8
د سحر وخت شوے دے پاڅئ! ........................................ 9
د حُقوقِ عامّه د اِحساس حِكايت ........................................ 11
زر زر قضا را اوګرځوئ ........................................ 11
قضا [لـمونځ] په پټه كوئ ........................................ 12
په جُمُعَةُ الوَداع كښې قضائے عُمری ........................................ 12
د ټول عُمر د قضا حِساب ........................................ 12
په قضا لـمونځونو راګرځولو كښې ترتيب ........................................ 13

د قضائے عُمرئ طريقه (حَنَفی) ............................................ 13
د قصر د لـمونځونو قضا............................................................ 14
د اِرتِداد د زمانے لـمونځونه...................................................... 14
د ماشوم د پيدا كيدو په وخت كښې لـمونځ ..................................... 15
مريض ته لـمونځ كله مُعاف دے؟ ............................................... 15
د ټول عُمر لـمونځونه بيا كول .................................................... 15
كه د قضا لفظ ترينه هير شو نو؟................................................ 16
قضا لـمونځونه د نفلو ادا كولو نه بهتر دي..................................... 16
د سحر او مازديګر نه پس نفلونه نه شي ادا كولے ........................... 17
د ماسپښين څلور سُنَّت كه پاتې شي نو څه اوكړي؟ ........................... 17
كه د سحر سُنَّت پاتې شي نو څه اوكړي؟ ........................................ 18
آيا د ماښام وخت لږ شان وي؟ ................................................... 18
د تراويح د قضا څه حكم دے؟ .................................................... 19
د لـمونځ فِديه [يعني كفَّاره]........................................................ 19
د مرحُومې د فِديے يوه مسئله ..................................................... 21
ساداتِ كرامو ته د لـمانځه فِديه نه شي وركولے................................ 22
د سلو كوړو حِيله [يعني بهانه] .................................................. 22
د غوږ سُوري كولو رواج د كله نه دے؟........................................ 23
د غوا د غوښې تُحفه................................................................. 24
د زكوٰة شرعى حيله.................................................................. 24
د فقير تعريف ........................................................................ 26
د مسكين تعريف ..................................................................... 26


www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د قضا لـمونځونو طريقه (حَنَفِی)

شيطان که مو که هر خومره منع کوي خو تاسو دا رساله پوره اولولئ اِنۡ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د دے برکتونه به تاسو پخپله اووينئ.

## د دُرود شريف فضيلت

د دوارو جهانو د سُلطان، د اللّٰه تعالیٰ د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَک دے: "په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل په **پُل صِراط** باندې نُور دے، خوک چې د جُمعے په ورځ په ما باندې اتيا ځله دُرُود شريف اولولي د هغه د اتيا کالو ګناهونه به مُعاف شي." (الفردوسُ بماثورِ الخطاب ج ۲ ص ۴۰۸ حديث ۳۸۱۴)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

په سيپاره ۳۰ سُورَةُ الۡمَاعُوۡن آيت نمبر ۴ او ۵ کښې ارشاد دے:

فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ ۝۴ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ۝۵

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالإيمان: نـو د هُغـه لـمونځ ګزارو د پاره خرابي ده چا چې خپل لـمونځونه په هير کښې اچولي دي.

مشهور مُفسِّر حَکيمُ الاُمّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰي عَلَيۡه د سُورَةُ الۡمَاعُوۡن د آيت نمبر ۵ لاندې فرمائي: د لـمونځ هيرولو يو خو صورتونه دي: کله هم نه کول، په پابندئ سره نه کول، په صحيح وخت نه ادا کول،

لـمونځ په صحيح طريقه نه ادا کول، په شوق نه ادا کول، ځان نه پوهه کول [يعني د لـمانځه علم نه حاصلول] او [دغسې لـمونځونه] کول ، په سُستئ او په بے پرواهئ ادا کول. (نُورُالعرفان ص ۹۵۸)

## د جَهَنَّم خوفناکه کنده

صَدرُ الشَّرِيعَه بَدرُالطَّرِيقَه، حضرت عَلّامَه مَولانا مُفتِي مُحَمَّد اَمجَد عَلِـي اَعظَمِـي رَحمَةُاللهِعَلَيه فرمائي: په جَهَنَّم کښې وَيل نامي يوه خوفناکه دره (يعني کنده) ده چې د هغې د سختئ نه پخپله جَهَنَّم هم پناه غواړي. قصداً لـمونځ قضا کوونکي د هغې حقدار دي. (بهارِ شريعت ج۱ ص ۳۴۷ مُلَخَّصاً)

## د ګرمئ نه به غر وِيلي شي

حضرتِ سَيِّدُنا امام محمّد بِن احمد ذَهبی رَحمَةُاللهِعَلَيه فرمائي: وائي چې په جَهَنَّم کښې يوه کنده ده چې د هغې نوم وَيل دے. که په هغې کښې د دُنيا غرونه واچولے شي نو هغه به هم د هغې د ګرمئ نه وِيلي شي او دا د هغه خلقو ځائے دے څوک چې په لـمانځه کښې سُستي کوي او د وخت [تيريدو] نه پس قضا [لـمونځ] کوي خو دا چې هغوئي په خپله کوتاهئ باندې پښيمانه شي او د اللّٰه تعالیٰ په بارګاه کښې توبه اوکړي. (کتاب الکبائر ص ۱۹)

## د سر چقيدو سزا

حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان ته اوفرمائيل چې: نن شپه دوه کسان (يعني جبرائيل او ميکائيل عَلَيهِمَا السَّلَام) زما خوا ته راغلل او زه

ئي ارضِ مقدَّسه [يعني پاكې زمكې] ته بوتلم. ما اوليدلو چې يو كس ملاست دے او د هغه سر ته يو كس **ګټ** [يعني كمر په لاسو كښې] نيولے ولاړ دے او مسلسل په [هغه] **ګټ** د هغه كس سر چقوي، هره پيره د چقولو نه پس سر بيا صحيح شي. ما فرښتو ته اووئيل: سُبْحٰنَ الله دا څوک دے؟ هغوئي عرض اوكړو: **مخكښې** تشريف يوسئ (د نورو نظارو راښودلو نه پس) فرښتو عرض اوكړو: ورومبے كس چې تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدلو **دا هغه [كس] وو چا چې قرآن لوستلے وو بيا ئې پرېښودے وو او د فرض لـمونځونو په وخت كښې به اوده كيدو، د ده سره به دا سلوک د قيامته پورې كيږي.**

(بُخاري ج۱، ٤ ص ٤٦٨، ٤٢٥ حديث ١٣٨٦، ٧٠٤٧ مُلَخَّصاً)

## د زرګاؤ كلونو د عذاب حقدار

**اعلٰي حضرت**، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په **فتاوٰی رضويه** جلد۹ صفحه ۱۵۸ نه ۱۵۹ كښې فرمائي: چا چې قصداً د يو وخت (لـمونځ) پرېښودو، **زرګاؤ كلونه** جَهَنَّم كښې د اوسيدو حقدار شو، تر څو چې توبه اونكړي او د هغې قضا را اونه ګرځوي، مسلمانان كه د هغه په ژوند كښې د هغه [سره تعلُّق] پرېږدي، د هغه سره خبرې نه كوي او نه د هغه سره كښيني، نو ضرور هغه د دې لائِق دے. الـلّٰه تعالیٰ فرمائي:

وَ اِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾

(پ۷، الانعام: ٦٧)

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالإيمان: او كه چرې له تا نه شيطان هير كړي نو چې درياد شي د ظالمَانو سره مه كښينه.

## په قبر کښې د اور شُعلے

د يو کس خور وفات شوه. چې خخه ئې کړه نو ور ياد شو چې د رقم (يعني روپو) کڅوړه [يعني تيلئ] ترينه په قبر کښې پريوتې وه چنانچه اِديرے [يعني مقبرے] ته لاړو او د کڅوړې راوِيستلو د پاره ئې چې د خپلې خور قبر اوکنستو نو **يو زړه درزووونکے منظر ئې اوليدو، څه ګوري چې د خور په قبر کښې ئې اور لـمبے وهي!** چنانچه زر زر ئې په څه طريقه په قبر خاورې واچولې او ډير زيات خفه شو، په ژړا ژړا د مور خوا له راغلو او تپوس ئې ترينه اوکړو چې زما خورې مورې! زما د خور اعمال څنګه وو؟ هغې اووئيل: ځويه ولې تپوس کوے؟ هغه عرض اوکړو چې: ”ما د خپلې خور په قبر کښې د **اور لَـمبے ليدلې** دي.“ مور ئې چې واوريدل نو هغه هم په ژړا شوه او اوئې وئيل: ”افسوس! ستا خور به په **لـمونځونو** کښې سُستي کوله او لـمونځونه به ئې د **قضا** کولو نه پس کول.“ (كتاب الكبائر ص ٢٦)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چې **قضا** کولو نه پس بيا د قضا راګرځولو والؤ داسې سختې سختې سزاګانې دي نو کوم **بدنصيبه** چې د سره لـمونځ نه کوي د هغه به څه انجام وي!

## که لـمونځ ادا کول ترينه هير شي نو.....؟

**تاجدارِ رسالت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوک چې د لـمانځه نه اُوده [پاتې] شي يا ئې **هير** شي نو چې کله ور ياد شي اُو دِ ئې کړي چې هُم هغه د هغې **وخت** دے. (مسلم ص ٣٤٦ حديث ٦٨٤)

فُقهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰه فرمائي چې: په اُودو يا په هيره [د چا نه] لـمونځ قضا شو نو د هغې قضا کول **فرض** دي البته د قضا ګناه په هغه نشته خو په رابيداريدو او په ورياديدو که مکروه وخت نه وي نو په هُم هغه ساعت دِ ئې اوکړي **ناوخته** کول مکروه دي. (بهارِشريعت ج١ص ٧٠١)

## که اِتِّفاقاً ئې سترګې اونه غړيدې نو .....؟

په **فتاوٰی رضويه** کښې دي: ❖ چې کله پوهيږي چې که اوده شوم نو لـمونځ به را نه لاړ شي نو په داسې وخت کښې اُوده کيدل حلال نه دي خو که په يو **راوِيښولو والا** باندې ئې اِعتِماد [يعني يقين] وي [نو بيا اُوده کيدے شي] ❖ که په داسې وخت کښې اوده شو چې عادةً به ئې [د لـمانځه] په وخت کيدو سترګې غړيدلې وے او **اِتفاقاً** ئې سترګې اونه غړيدې نو ګنهګار نه دے. (فوائد جليله فتاوٰی رضويه ج٤ص ٦٩٨)

## په مجبورئ کښې به د اَدا ثواب حاصل شي او که نه؟

د **سترګو** نه غړيدو په وجه د سحر لـمونځ د ”قضا“ کيدو په صورت کښې به د ”ادا“ ثواب حاصليږي که نه. په دې باره کښې **اعلٰي حضرت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه په **فتاوٰی رضويه جلد٨** صفحه ١٦١ کښې فرمائي: پاتې شو د ادا ثواب حاصليدل، دا د اللّٰه تعالٰی په اختيار کښې دي. که هغه [انسان] ته معلومه وي چې هغه د خپل طرف نه څه کوتاهي نه وه کړې، د سحره پورې د وِيښ پاتې کيدو په اراده ناست وو او

بے اختیاره ئې سترګې وَرَغلې نو ضرور په هغه ګناه نشته. رَسُولِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د خوب په صورت کښې کوتاهي نشته، کوتاهي د هغه کس ده چې (په ويښه) لـمونځ اونه کړي تر دې چې د بل لـمونځ وخت راشي. (مُسلم ص ٣٤٤ حديث ٦٨١)

## د شپې په آخرئ حصّه کښې اوده کيدل څنګه دي؟

که د لـمانځه د وخت داخليدو نه پس اُوده شو بيا وخت تير شو او لـمونځ ترينه قضا شو نو قطعي ګنهګار شو هله چې په راوِيښيدلو ئې صحيح اعتِماد يا د راوِيښولو والا موجود نه وو. بلکه د سحر د وخت داخليدو نه مخکښې هم د اوده کيدو اِجازت نه شي کيدے هله چې د شپې اکثره حصّه ئې په ويښه تيره شوي وي او غالب ګمان لري چې که اوس اوده شو نو [د لـمانځه] په وخت کښې به ئې سترګې اونه غړيږي. (بهارِ شريعت ج١ ص٧٠١)

## د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که په نعت خوانئ، د ذکر و فِکر په محفلونو، او د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو وغيره کښې د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدو نه پس د اوده کيدو په سبب د سحر د لـمانځه د قضا کيدو انديښنه وي نو د اِعتکاف په نِيَّت په جمات کښې شپه تيره کړئ يا هُغه ځائے کښې اوده شئ کوم ځائے چې يو قابلِ اعتِماد اسلامي ورور راپاڅولو والا موجود وي. او يا د ټلئ والا ګينټه [يعني ټائِم پيس] وي چې په هغې سترګې غړيدې شي

خو په يو ټائِم پيس اعتِبار نه دے پکار ځکه چې په خوب کښې د لاس لګيدو [په وجه] يا هسې د خرابيدو په وجه بنديدے شي، چې دوه يا د ضرورت مطابق زياتې کړئ [يعني ټائِم پيسونه] وي نو بهتره ده. فقهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰي فرمائي: ”**چې کله دا انديښنه وي چې د سحر لـمونځ به ترينه لاړ شي نو بے ضرورتِ شَرعِيَّه هغه ته د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدل منع دي.**“ (رَدُّالمُحتار ج۲ ص ۳۳)

## د اَدا، قضا او واجِبُ الاِعاده تعريفونه

د کوم څيز چې بندګانو ته حکم دے هغه په وخت باندې کولو ته ادا وائي او د وخت ختميدو نه پس [هغه کار] کولو ته **قضا** وائي او که د هٰغه حکم په ادا کولو کښې څه خرابي پيدا شي نو د هغه خرابئ د لرې کولو د پاره هغه عمل بيا کولو ته اِعاده وائي. که په وخت کښې دننه دننه ئې تکبيرِتحريمه اووئيلو [يعني نِيّت ئې اوتړلو] نو لـمونځ قضا نه شو بلکه ادا دے. (دُرِّمختار ج۲ ص۶۲۷,۶۳۲) خو د سحر د لـمانځه، د جُمُعے او د اختر د لـمونځونو نه په وخت کښې دننه دننه سلام ګرځول لازمي دي ګني لـمونځ نه کيږي. (بهارِشريعت ج۱ ص۷۰۱) بے **عُذرِ شرعي** لـمونځ قضا کول سخته ګناه ده، په هغه باندې فرض دي چې د هغې **قضا** اوکړي او په رښتينې زړه توبه اوکړي، په توبه کولو يا په حجِّ مقبول کولو به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د ناوخته کولو ګناه مُعاف شي. (دُرِّمختار ج۲ ص۶۲۶) توبه هله صحيح ده چې قضا [شوي لـمونځونه] اوکړي، د هغې د ادا کولو نه بغير توبه توبه کول توبه نه ده، چې کوم لـمونځونه د هغه په ذِمّه وو د هغې نه ادا کول خو اوس هم

پاتې دي [يعني هغه ګناه خو اوس هم د هغه په سر پاتې ده] او چې د ګناه نه قلار نه شو نو توبه څنګه شوه؟ (رَدُّالمُحتار ج۲ ص۶۲۷)

د حضرتِ سَيِّدنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه روايت دے چې تاجدارِ رِسالَت صَلَّی اللہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے، چې په ګناه باندې د قائم اوسيدو سره توبه كولو والا د هغه په شان دے څوک چې د خپل رَبّ عَزَّوَجَلَّ سره ټوقې كوي. (شُعَبُ الايمان ج۵ ص۴۳۶ حديث ۷۱۷۸)

## د توبه درې اركان دي

صَدۡرُالۡاَفَاضِل حضرت علّامه مولانا سَيِّد محمَّد نَعِيمُ الدّين مُراد آبادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د توبه درې اركان دي: (۱) خپله ګناه منل (۲) پښيماني (۳) د پريښودو پخه اراده كول. كه ګناه د بدلے ادا كولو قابِله وي نو د هغې بدله ادا كول هم لازِم دي مثلاً د لـمونځ پريښودونكي د توبه كولو د پاره د لـمونځونو قضا [راګرځول] هم لازمي دي.“ (خزائن العرفان ص۱۲)

## اُوده كس د لـمانځه د پاره را بيدارول كله واجب دي؟

كه څوک اُوده وي يا ترينه لـمونځ ادا كول هير شوي وي، نو چا ته چې معلوم وي په هغه واجب دي چې اُوده كس را بيدار كړي او چې د چا نه هير وي هغه ته ورياد كړي. (ګني ګنهګار به شي) (بهارِ شريعت ج۱ ص۷۰۱) ياد ساتئ چې! رابيدارول يا وريادول هله واجب دي چې غالِب ګمان دا وي چې دا به لـمونځ ادا كړي ګني واجب نه دي.

## د سحر وخت شوے دے پاځئ!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ښه ډيره **صدائے مدينه** لګوئ يعني اوده [خلق] د لـمانځه د پاره رابيداروئ او ډيرې نيکئ ګټئ. د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې د سحر د لـمانځه لپاره مسلمانانو رابيدارولو ته **صدائے مدينه** وائي، صدائے مدينه واجِب نه ده، د سحر لـمانځه لپاره رابيدارول د ثواب کار دے او دا هر مسلمان ته د موقعے په لحاظ سره کول پکار دي. په صدائے مدينه لګولو کښې د دې خبرې احتياط کول ضروري دي چې يو مسلمان ته تکليف اونه رسي.

## حِکايَت

يو اسلامي ورور ما (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ) ته وئيلي وو چې مونږه يو څو اسلامي ورونړو په **ميګافون** باندې د سحر په وخت صدائے مدينه لګوله او په يوه کوڅه تيريدو. يو صاحِب مونږه اورټلو او اوئې وئيل چې زما ماشوم څوئ تږوله شپه نه وو اُوده شوے اوس د هغه سترګې ورغلي دي تاسو **ميګافون** بند کړئ. مونږ ته د هغه صاحِب په دې خبره ډيره غصّه راغله، چې دا څنګه مسلمان دے، مونږه لـمانځه له راپاڅول کوو او دا په دې نيک کار کښې رکاوټ اچوي! خير مونږه په دويمه ورځ بيا صدائے مدينه لګولو د پاره هغه طرف ته اُووتلو نو هغه صاحِب د **مخکښې** نه د کوڅے په سر کښې خفه ولاړ وو او مونږ ته ئې اووئيل: نن هم ماشوم ټوله شپه نه دے اُوده شوے اوس ئې سترګې ورغلي دي څکه زه دلته

اودريدم چې تاسو ته درخواست اوکړم چې زمونږه په کوځه په خاموشۍ تیر شۍ. نو د دې خبرې نه معلومه شوه چې صدائے مدینه د **میګافون** نه بغیر لګول پکار دي. او **میګافون** نه بغیر هم دومره اوچت آوازونه وِیستل نه دي پکار چې د هغې په وجه کورونو کښې په لــمانځه او تِلاوت کښې مشغولو اسلامي خویندو، ضعیفه خلقو، مریضانو او ماشومانو ته تکلیف اورسي او یا چا په اوّل وخت کښې لــمونځ ادا کړے وي او بیا اُوده شوے وي او د هغه په خوب کښې خلل واقع شي. او که یو مسلمان د خپل کور خوا کښې **صدائے مدینه** لګولو نه منع کوي نو هغه سره د ضِد او بحث کولو په ځائے د هغه نه مُعافي غوښتل پکار دي او د هغه باره کښې نیک ګمان ساتل پکار دي ځکه چې یقیناً یو مسلمان لــمانځه ته د راپاڅولو مخالف نه شي کیدے، د دې عاجزه به څه مجبوري وي. فرض کړئ که هغه بیلمانځه وي نو هم تاسو په هغه باندې د سختۍ کولو اختیار نه لرئ، هغه بیا یو بل مناسب وخت کښې په ډیره نرمۍ د اِنفِرادي کوشش په ذریعه لــمانځه د پاره تیار کړئ، په جُماتونو کښې هم د سحر د اذان نه علاوه بے موقع او مَحَلّو یا کورونو کښې دننه د نعتونو په محفلونو وغیره کښې اسپیکر استعمالولو والؤ ته هم دا خبره نظر کښې ساتل پکار دي چې چرې کورونو کښې عبادت کوونکو، مریضانو، د پـئو ماشومانو او اُودو خلقو ته تکلیف اونه رسي.

## د حُقوقِ عامّه د اِحساس حِکايت

د حقوقِ عامّه خيال ساتل ډير ضروري دي، زمونږه اسلافو [يعني پخوانو بُزرګانو] به په دې مُعامَله کښې ډير زيات احتياط کولو. چنانچه حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام احمَد بِن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې به يو کس د ډيرو کلونو نه حاضريدو او عِلم به ئې حاصلولو. يو ځل چې هغه راغلو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ترينه نه مخ واړولو. هغه ډير په زاري تپوس اوکړو [چې آخر تاسو ولې مخ واړولو نو] هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: تا د خپل کور سړک طرف ته کوټ باندې ختِه کړې ده او د انسان د ونې [يعني قد] همره دِ هغه (ديوال) رامخکښ کړے دے حالانکه هغه د مسلمانانو لار ده. يعني زه ستا نه څنګه خوشحاليدے شم چې تا د مسلمانانو لار تنګه کړې ده! (اِحيَاءُالْعُلُوم ج٥ ص٩٦مُلَخَّصاً) د دې نه دِ هغه خلق هم عبرت حاصل کړي څوک چې د خپلو کورونو نه بَهر داسې چوترے وغيره جوړوي چې د مسلمانانو لار پرې تنګيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زر زر قضا را اوګرځوئ

د چا په ذِمّه چې قضا لــمونځونه وي د هغې زر نه زر کول واجِب دي خو د بال بچو د پالنې او د خپلو ضرورتونو پوره کولو په سبب ناوخته کول

جائز دي. ځکه دِ کاروبار هم کوي او چې څه اوزګار وخت مومي په هغې کښې دِ **قَضا** [لـمونځونه] راګرځوي تر دې چې پوره شي. (دُرِّمختار ج۲ ص٦٤٦)

## قضا [لـمونځ] په پټه کوئ

**قَضا** لـمونځونه په پټه راګرځوئ خلقو (يا کور والؤ بلکه نِزدے دوست ته هم) دا [خبره] مه ښکاره کوئ. (مَثَلاً دا مه وائے چې نن زما د سحر لـمونځ قضا شوے دے يا زه قضائے عُمری کووم وغيره) ځکه **چې ګناه ښکاره کول هم مَکروهِ تَحريمی او ګناه ده.** (رَدُّالمُحتار ج۲ ص٦٥٠) لِهٰذا که څوک د خلقو په موجودګئ کښې د وِترو قضا راګرځوي نو د تکبيرِ قُنُوت د پاره دِ لاس نه اوچتوي.

## په جُمُعَةُ الوَداع کښې قضائے عُمری

د **رَمَضانُ المُبارَک** په آخِرئ **جُمُعه** کښې بعضې خلق د جَمعې سره قضائے عُمري ادا کوي او دا ګڼړي چې د ټول عُمر قضا شوي لـمونځونه د دې يو لـمونځ سره ادا شو دا د سره باطِل [يعني غَلَط] دي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۷۰۸)

## د ټول عُمر د قضا حِساب

**چا** چې د سره هډو لـمونځونه کړي نه وي او اوس ورته توفيق نصيب شو او قضائے عُمري کول غواړي، هغه چې د کله نه بالغ شوے دے د هغه وخت نه دِ د لـمونځونو حِساب اولګوي او که د بالغ کيدو تاريخ ورته نه وي معلوم نو اِحتياط په دې کښې دے چې د هجری سِن په حِساب

زنانه د نهو کالو د عُمر نه او نارينه دِ د **دولسو کالو** د عُمر نه د لــمونځونو حِساب اولګوي.

## په قضا لــمونځونو راګرځولو کښې ترتيب

په **قضائے عُمرئ** کښې دا هم کولے شي چې اوّل ټول د سحر لــمونځونه را اوګرځوي بيا ټول د ماسپښين لــمونځونه. بيا دغسې د مازديګر، ماښام او ماسخُتن.

## د قضائے عُمرئ طريقه (حَنَفي)

**قضا** د هرې ورځې شل رکعاته دي. دوه فرض د سحر، خلور د ماسپښين، خلور د مازديګر، درې د ماښام، خلور د ماسخُتن او درې [رکعاته] وِتر. نِيَّت دِ داسې کوي، مَثَلاً: ”**د ټولو نه اوّل د سحر لــمونځ چې زما نه کوم قضا شوے وو هغه ادا کووم.**“ په هر لــمانځه کښې دِ دغه شان نِيَّت کوي. د چا نه چې ډير لــمونځونه قضا شوي وي هغه ئې که د آسانئ د پاره داسې هم ادا کړي نو جائز دي چې په هره رکوع او سجده کښې د درې درې ځله ”سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡعَظِیۡم ، سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی“په ځائے صرف يو يو ځل وائي. خو دا هميشه او هر قِسمه لــمانځه کښې ياد ساتل پکار دي چې کله رکوع کښې مکمل اورسيږي نو هله دِ د سُبۡحٰنَ ”سِين“ شروع کوي او چې کله د عَظِیۡم ”مِيم“ ختم کړي نو هله دِ د رکوع نه سر را اوچتوي. دغسې دِ په سجده کښې هم کوي. يو **تخفيف** (يعني کمے) خو دا شو او دويم دا دے چې د فرضو په دريم او څلورم رکعت کښې دِ داَلۡحَمۡد

شريف په ځائے صِرف ”سُبۡحٰنَ اللّٰهِ“ درې ځله وائي او رکوع دِ کوي. خو د وِترو په درې واړو رکعاتو کښې اَلۡحَمۡد شريف او سُورت دواړه لوستل ضروري دي. دريم تخفيف (يعني کمے) دا دے چې په قَعدۀ اَخِيره کښې دِ تَشَهُّد يعني اَلتَّحِيَّات نه پس د دواړو دُرُودو او دُعا په ځائے صِرف ” اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ“ وائي او سلام دِ ګرځوي. څلورم تخفيف (يعني کمے) دا دے چې د وِترو په دريم رکعت کښې دِ د دُعائے قُنُوت په ځائے اَللّٰهُ اَکۡبَر لوستلو نه پس صرف يو ځل يا درې ځله ”رَبِّ اغۡفِرۡ لِي“ وائي. (مُلَخَّص از فتاوٰی رضويه مُخَرَّجه ج۸ ص ۱۵۷)
ياد ساتئ! د تخفيف (يعني د کمي) د دې طريقے عادت هيڅ کله هم [په نورو لـمونځونو کښې] مه جوړوئ، د معمول لـمونځونه د سُنَّت مطابق ادا کوئ او په هغې کښې د فرائضو او واجباتو سره سره د سُنَّتو او مُستَحَبّاتو او آدابو هم خيال ساتئ.

## د قصر د لـمونځونو قضا

که د سفر په حالت کښې قضا شوے لـمونځ د اِقامت په حالت کښې کوي نو قصر به کوي او که د اِقامت په حالت کښې قضا شوے لـمونځ په سفر کښې کوي نو پوره به کوي يعني قصر به نه کوي. (عالمګيری ج۱ ص ۱۲۱)

## د اِرتِداد د زمانے لـمونځونه

**کوم** کس چې مَعَاذَ اللّٰه **مُرتد** شو او بيا ئې اِسلام [يعني اِيمان] راوړو نو د مُرتد کيدو د زمانے د لـمونځونو قضا نشته او د مُرتد کيدو نه **مخکښې**

د اسلام په زمانه کښې چې ترينه کوم لـمونځونه پاتې شوي وو د هغې راګرځول واجِب دي. (رَدُّالمُحتار ج۲ ص ٦٤٧)

## د ماشوم د پيدا کيدو په وخت کښې لـمونځ

**دائي** (زنانه ډاکټره يا نرسه) که لـمونځ کوي نو د ماشوم د مړکيدو انديښنه ده، دا د لـمونځ قضا کيدو د پاره عُذر دے (يعني مجبوري ده). که د ماشوم سر بَهر راوتے وي او د نِفاس نه مخکښې به وخت ختم شي نو په دې حالت کښې هم د هغه [ماشوم] په مور باندې لـمونځ ادا کول فرض دي که اوئي نکړي نو ګنهګاره به شي. په يو لوښي کښې دِ د ماشوم سر داسې کيږدي چې هغه [يعني ماشوم] ته څه نُقصان اونه رسي او لـمونځ دِ اوکړي خو که په دې طريقه لـمونځ کولو کښې هم د ماشوم د مړکيدو انديښنه وي نو ناوخته کول مُعاف دي. د نِفاس نه پس دِ د دې لـمونځ قَضا را اوګرځوي. (اَيضاً ص ٦٢٧)

## مريض ته لـمونځ کله مُعاف دے؟

**داسې** مريض چې په اِشاره هم لـمونځ نه شي کولے که دا حالت پوره د شپږ وخته پورې وو نو په دې حالت کښې چې کوم لـمونځونه قَضا شوي دي د هغې قَضا راګرځول واجِب نه دي. (عالمګیری ج۱ ص ۱۲۱)

## د ټول عُمر لـمونځونه بيا کول

**د چا** په لـمونځونو کښې چې نُقصان او کراهت وي هغه که د ټول عُمر لـمونځونه را اوګرځوي نو غوره خبره ده او که څه خرابي پکښې نه وي نو

راګرځول نه دي پکار او که راګرځوي ئې نو د سحر او مازديګر نه پس دِ ئې نه کوي او ټول رکعاتونه دِ ډک کوي او په وِترو کښې دِ د دُعائے قُنُوت لوستلو او دريم رکعت [پوره کولو] نه پس قَعده اوکړی، بيا دِ ورسره يو بل [رکعت] يو ځائے کړي چې څلور شي. (عالمگیری ج۱ص۱۲٤)

## که د قضا لفظ ترينه هير شو نو؟

**اعلٰي حضرت**، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: زمونږه عُلماء وَضاحت کړے دے: چې قَضا د ادا په نِيَّت او ادا د قَضا په نِيَّت دواړه صحيح دي. (فتاوٰی رضویه مخرجه ج۸ ص۱٦۱)

## قضا لـمونځونه د نفلو ادا کولو نه بهتر دي

په "**فتاوٰی شامی**" کښې دي، قَضا لـمونځونه د نفلو ادا کولو نه بهتر او اَهَم دي خو سُنَّت مؤکده، د څاښت لـمونځ، **صَلٰوةُالتَّسبِيح** او هغه لـمونځونه د کومو باره کښې چې اَحاديثِ مُبارَکه روايت شوي دي يعني لکه **تَحِيَّةُالمَسۡجِد**، د مازديګر نه مخکښې څلور رکعاته (سُنَّت غير مؤکده) او د ماښام نه پس شپږ رکعاته (ادا کول پکار دي). (رَدُّالمُحتار ج۲ص٦٤٦) ياد ساتئ! د قضا لـمونځو په وجه **سُنَّت مُؤَکَدَه** پريښودل جائز نه دي. البَتَّه **سُنَّتغيرمُؤَکَدَه** او په احاديثو کښې راغلي **مخصوص** نفلونه که ادا کوي نو د ثواب حقدار دے خو د دي په نه ادا کولو کښې څه ګناه نشته، که په ذِمّه ئې قضا لـمونځونه وي او که نه وي.

## د سحر او مازديګر نه پس نفلونه نه شي ادا کولے

د **سحر** او مازديګر د لـمانځه نه پس هغه ټول نفلونه ادا کول مکروهِ (تحريمی) دي کوم چې قصداً اوکړے شي اګر که تَحِيَّةُ الْمَسْجِد وي، او هر هغه لـمونځ (هم نه شي کولے) کوم چې د غير په وجه [يعني په بله څه وجه] لازم شوے وي مَثَلاً د نَذر او طواف نفلونه او هر هغه لـمونځ کوم ئې چې شروع کړے وو او بيا ئې مات کړے وو، اګر که هغه د سحر او د مازديګر سُنَّت وي. (دُرِّمختار ج۲ ص٤٤، ٤٥)

د **قضا** د پاره څه وخت مُقَرَّر نه دے په ټول عمر کښې ئې چې کله اوکړي د ذِمَّه وارئ نه به خلاص شي. خو د لـمر راختو او لـمر پريوتو او د زوال په وخت کښې لـمونځ نه شي کولے ځکه چې په دې وختونو کښې لـمونځ جائز نه دے. (بهارِ شريعت ج۱ ص۷۰۲، عالمګيری ج۱ ص٥۲)

## د ماسپښين خلور سُنَّت که پاتې شي نو څه اوکړي؟

که د ماسپښين فرض مو اوّل ادا کړل نو دوه رکعاته سُنَّت ادا کولو نه پس خلور رکعاته سُنَّتِ قَبليه [يعني د فرضو نه مخکښني سُنَّت چې پاتې شوي وو هغه] ادا کړئ. چنانچه اعلٰى حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د ماسپښين اولني خلور سُنَّت ئې که د فرضو نه مخکښې نه وي ادا کړي نو د فرضو نه پس [دِ ئې ادا کړي] بلکه اَرجَح (يعني په ډير زيات خوښ مذهب باندې دِ ئې د (دوه رکعاته) سُنَّت بَعدِيه [يعني وروستو سُنَّتو] نه پس ادا کړي

په شرط د دې چې (اوس هم) د ماسپښين وخت پاتې وي. (فتاوٰی رضویه مخرجه ج٨ ص ١٤٨)

## که د سحر سُنَّت پاتې شي نو څه اوکړي؟

د سُنّتو ادا کولو په وجه که د سحر د جَمعې تللو انديښنه وي نو د [سُنَّتو] ادا کولو نه بغير دِ [په جَمعَ کښې] شامِل شي. خو د [جَمعې د] سلام ګرځولو نه پس [سُنَّت] ادا کول جائز نه دي. د لمر راختلو نه کم از کم د شل منټه پس نه واخله د **ضحوۂ کبرٰی** [يعني د لمر ستركه د سر په برابرې راتللو نه مخکښې] پورې دِ ئې ادا کړې چې **مُسْتَحَب** دي. د دې نه پس **مُسْتَحَب** هم نه دي.

## آيا د ماښام وخت لږ شان وي؟

د **ماښام** د لمانځه وخت لمر پريوتو نه واخله د ماسخُتن د اولني وخت شروع کيدو پورې دے. دا وخت د ځائيونو او تاريخ په اعتِبار کميږي او زياتيږي مثلاً په بابُ المَدينه کراچۍ کښې د وختونو د نظام د نقشے مطابق د ماښام وخت کم نه کم يوه ګينټه او اَتَلّس منټه وي. فقهائے کرام رَحِمَهُمُ الله فرمائي: په کومه ورځ چې وريځ وي د هغې نه علاوه په ماښام کښې هميشه تادي [يعني زر شروع] کول مُستَحب دي او د دوه رکعاتو نه زيات ناوخته کول مکروهِ تنزيهي او که د سفر او مرض د عُذر نه بغير ئې دومره ناوخته کړل چې ګنړ ستوري ښکاره شي نو مکروهِ تحريمي دي. (بهارِ شريعت ج١ ص ٤٥٣)

**اعلٰی حضرت**، امامِ اهلسُنَّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې (يعني د ماښام) **مُسْتَحَب** وخت د هٔغه وخته پورې دے چې ستورې سم نه وي ښکاره شوي، دومره ناوخته کول چې (د غټو غټو ستورو نه علاوه) واړه واړه ستوري هم وځليږي، مکروه دي. (فتاوٰی رضويه مخرجه ج۵ ص۱۵۳)

د **مازديګر** او **ماسخُتن** نه مخکښې چې کوم رکعاتونه دي هغه سُنَّت غيرمؤَکده دي د هغې قضا نشته.

## د تراويح د قضا څه حکم دے؟

**که** تراويح کول پاتې شي نو قضا ئې نشته، نه د جَمعې سره نه يواځې او که څوک ئې قضا اوکړي نو دا جُدا نفل شو، تراويح سره به ئې تعَلُّق نه وي. (تنويرُ الابصار و دُرِّمُختار ج۲ ص۵۹۸)

## د لـمونځ فِديه [يعني کفَّاره]

## د چا چې خپلوان وفات شوي وي

## هغوئي دِ دا مضمون ضرور اولولي

د **مړي** عمر معلوم کړئ او د هغې نه نهه کاله د زنانه د پاره او دولس کاله د نارينه د پاره د نابالغئ [عمر] اوباسئ. باقي چې څو کاله پاتې شي په هغې کښې حساب اولګوئ چې د څومره مودے پورې هغه (مرحوم) لـمونځونه نه وو ادا کړي يا ئې روژے نه وي نيولي، يا چې څومره

لـمونځونه او روژے د هغه په ذِمَّه قضا پاتې دي. د زياتو نه زياته اندازه اولګوئ بلکه که غواړئ نو د نابالغئ د عمر نه پس د باقي ټول عُمر حِساب اولګوئ. بيا د يو يو لـمونځ يوه يوه صدقۀ فِطر [سرسايه] خيرات کړئ. د يوے صَدقۀ فِطر مقدار اتيا ګرامه کم دوه کلو غنم يا د هغې وړه يا د هغې روپۍ دے. او د يوے ورځې شپږ لـمونځونه دي، پينځه فرض او يو وِتر واجِب. مثلاً که د اتيا ګرامه کم دوه کلو غنمو رقم 12 روپۍ جوړيږي نو د يوے ورځې د لـمونځونو 72 روپۍ شوې او د ديرشو ورځو 2160 روپۍ شوې او د دولسو مياشتو تقريباً 25920 روپۍ شوې. اوس که په يو مړي باندې د پنځوسو کالو لـمونځونه پاتې وي نو د فِديه [يعني کفَّاره] ادا کولو د پاره به 1296000 روپۍ خيراتول غواړي. ښکاره خبره ده چې هر کس د دومره روپو خيراتولو طاقت نه لري، ځکه عُلمائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡھِم شرعي حيله [يعني بهانه] ارشاد فرمائيلي ده. مثلاً هغه دِ د ديرشو ورځو د لـمونځونو د کفَّارے په نِيَّت يو فقير (د فقير او مِسکين تعريف په صفحه 25، 26 کښې اوګورئ) د 2160 روپو مالِک کړي [يعني د هغه په قبضه کښې دِ ئې ورکړي]، دا د ديرشو لـمونځونو فِديه ادا شوه. بيا دِ هغه فقير دا روپۍ هغه ورکوونکي ته هِبَّه کړي (يعني په تُحفه کښې دِ ئې ورکړي) دا مالِک دِ ئې د قبضه کولو [يعني اخستلو] نه پس بيا هغه فقير ته د ديرشو ورځو د لـمونځونو د کفّارے په نِيَّت د هغه په قبضه کښې ورکړي او د هغې مالِک دِ ئې جوړ کړي. هُم دغه شان ورکول او اخستل دِ کوي نو دغسې به د ټولو لـمونځونو فِديه ادا شي. صرف د ديرشو ورځو

د روپو په ذريعه حيله [يعني بهانه] کول شرط نه دے دا خو د پوهه کولو د پاره يو مِثال ورکړے شوے دے. فرض کړئ که د پنځوسو کالو د فديے روپئ موجودي وي نو يو ځل ورکولو اخستلو سره به کار اوشي [يعني فِديه به ادا شي]. ياد ساتئ د صَدقۂ فِطر حِساب به د غنمو د موجوده نرخ په حساب لګولے کيږي. **هم دغه شان د يوے روژے** [کفَّاره] **هم يوه صَدقۂ فِطر ده.** د لـمونځونو فِديه ادا کولو نه پس د روژو فِديه هم په دغه طريقه ادا کولے شي. غريب او مالدار ټول د فِديے حيله کولے شي. که وارثان د خپلو مرحومينو د پاره دا عمل اوکړي نو دا د مړي سره زبردست اِمداد دے، دغسې به مړے هم اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د فرض د بوج نه آزاد شي او وارثان به هم د اجر و ثواب حقداران شي. بعضې خلق په جُمات وغيره کښې د قرآنِ پاک يوه نُسخه ورکړي او دا ګڼړي چې مونږه د خپلو مرحومينو د پاره د ټولو لـمونځونو فِديه ادا کړه دا د هغوئي غلط فهمي ده.

(تفصيل د پاره فتاوٰی رضويه مُخَرَّجه جِلد ۸ صفحه ١٦٧ اوګورئ)

## د مرحُومې د فِديے يوه مسئله

که د زنانه د حيض عادت معلوم وي نو د هغې په قدر او که معلوم نه وي نو د هرې مياشتې نه درې ورځې د نهو کالو د عمر نه [علاوه] لرې کړئ خو چې څومره ځله ئې حمل وو نو د حمل د مودے نه د حيض ورځې مه لرې کوئ. که د زنانه د نِفاس عادت معلوم وي نو د هر حمل نه دِ هغه همره ورځې لرې کړي او که معلوم نه وي نو هيڅ نه [يعني هيڅ

ورځې دِ ترینه نه کموي] ځکه چې د نِفاس د پاره د کم نه کم شرعاً هيڅ مقدار نشته. کيدے شي چې يو منټ راشي او فوراً پاکه شي.

(ماخوذ از فتاوٰی رضويه مُخَرَّجه ج ۸ ص ۱۵٤)

## ساداتِ کرامو ته د لـمانځه فِديه نه شي ورکولے

**د اعلٰي حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** رَحمَةُاللهِعَلَيه نه ساداتو او غيرمسلمه خلقو ته د لـمانځه د فِديه ورکولو په باره کښې تپوس اوکړے شو نو اوئې فرمائيل: صَدَقه (يعني د لـمانځه فِديه) د حضراتِ ساداتِ کرام [يعني د سيِّدانو] لائقه نه ده او هندوان وغيره کفّار د دې صَدَقے لائق نه دي. دے دواړو ته د ورکولو بالکل اجازت نشته، او نه به هغوئي ته په ورکولو ادا شي. مسلمانانو مِسکينانو خپلوانو غيرِ هاشِمي (يعني خپلو مسکينانو مسلمانانو خپلوانو چې هاشمي نه وي) ته په ورکولو کښې دوه همره ثواب دے. (فتاوٰی رضويه مُخَرَّجه ج ۸ ص ۱٦٦)

## د سلو کوړو حِيله [يعني بهانه]

د **حِيلۀ شرعی** جواز په قرآن و حديث او د فقۀ حَنَفي په مُعتبَرو کتابونو کښې موجود دے. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا اَيُّوب عَلَيهِ السَّلَام د بيمارئ په زمانه کښې د هغوئي بي بي **مُحترَمه** رَضِيَ اللهُ عَنهَا يو ځل د هغوئي په خِدمت مبارَک کښې ناوخته حاضِره شوه نو هغوئي عَلَيهِ السَّلَام قَسم اوکړو "چې زه کله جوړ شم نو سل کوړے به ئې وَهم" چې کله [هغوئي عَلَيهِ السَّلَام] جوړ شو نو اللّٰه تعالٰی هغوئي (عَلَيهِ السَّلَام) ته حکم ارشاد اوفرمائيلو چې [خپله بي بي يو

ځل] د سلو تِيلو په جارو باندې اووهه. ‹نُورُالعرفان ص ٧٢٨ مُلَخَّصاً› اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په پاره 23 سورِ صٓ آيت نمبر 44 کښې ارشاد فرمائي:

وَ خُذۡ بِیَدِكَ ضِغۡثًا فَاضۡرِبۡ بِّهٖ وَلَا تَحۡنَثۡ ؕ (پ ٢٣، ص ٤٤)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او اوئې فرمائيل چې په خپل لاس کښې يوه جارو راواخله او په هغې ئې اووهه او قَسم مه ماتوه.

په ”عالَـمګيری“ کښې د حيلو يو مُستَقِل باب دے چې د هغې نوم ”کتابُ الْحِيَل“ دے چنانچه په ”عالَمګيری کتابُ الحِيَل“ کښې دي، ”کومه حيله [يعني بهانه] چې د چا د حق وهلو يا په هغې کښې د شک پيدا کولو يا په باطله [يعني په ناحقه] د دوکه ورکولو د پاره اوکړے شي هغه مکروه ده او کومه حِيله چې د دې د پاره اوکړے شي چې انسان د حرام نه بچ شي يا حلال حاصِل کړي هغه ښه ده.“ د داسې قِسمه حِيلو د جائز کيدلو دليل د اللّٰه تعالیٰ دا فرمان دے:

وَ خُذۡ بِیَدِكَ ضِغۡثًا فَاضۡرِبۡ بِّهٖ وَلَا تَحۡنَثۡ ؕ (پ ٢٣ ص ٤٤)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او اوئې فرمائيل چې په خپل لاس کښې يوه جارو راواخله او په هغې ئې اووهه او قَسم مه ماتوه. (فتاوٰی عالمګيری ج ٦ ص ٣٩٠)

## د غوږ سُوري کولو رواج د کله نه دے؟

د حيلے په جائز کيدو باندې بل دليل واورئ چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا عَبدُاللّٰه اِبنِ عبّاس رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا نه روايت دے چې يو ځل د حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره او حضرتِ سَيِّدَتُنا هاجِره رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا په مينځ کښې خفګان

راغـے. حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا قَسم اوخوړو چې که وَس مې پرې بر شو نو د هاجِره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا يو اندام به کټ کووم. اللّٰه تعالٰی حضرتِ سَيِّدُنا جبرئيل عَلَيۡهِ السَّلام د حضرتِ سَيِّدُنا ابراهيم خليلُ الله عَلَيۡهِ السَّلام په خِدمت کښې اوليږلو چې [اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلام ته اووايه چې] په هغوئي کښې صُلح اوکړي. سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا عرض اوکړو: "**ماحِيۡلَةُيَمِيۡنِىۡ**" يعني زما د قسم به څه حيله [يعني بهانه] وي؟ نو په حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم خَليلُ الله عَلَيۡهِ السَّلام باندې وحي نازله شوه چې (حضرت) ساره (رَضِیَ اللہُ عَنۡہا) ته حُکم ورکړه چې هغه د (حضرت) هاجِره (رَضِیَ اللہُ عَنۡہا) غوږونه سُوري کړي. **د هغه وخت نه د زنانؤ د غوږونو د سوري کولو رواج جوړ شو.** (غمزُ عُيُونِ البصائر للحموی ج۳ ص ۲۹۵)

## د غوا د غوښې تُحفه

د اُمُّ الْمُؤمِنين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نه روايت دے چې د دواړو جهانو د سردار خوږ نبـی صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د غوا غوښه حاضِره کړے شوه، چا عرض اوکړو دا غوښه په حضرتِ سَيِّدَتُنا بَرِيره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا باندې صَدَقه [يعني واجِب صَدَقه] کړے شوي وه. اوئې فرمائيل: **هُوَلَهَاصَدَقَةٌوَّلَنَاهَدِيَّةٌ** يعني دا د بَرِيره د پاره **صَدَقه** وه او زمونږ د پاره **هَدِيَّه** [يعني تُحفه] ده. (مُسلم ص۵٤١ حديث ١٠٧٥)

## د زکوٰة شرعی حيله

د دې حديثِ پاک نه صفا ظاهره ده چې حضرتِ سَيِّدَتُنا بَرِيره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا چې هغه د صَدَقے حقداره وه هغوئي ته بطورِ صَدَقه د غوا غوښه

حاصله شوي وه، اګر چې د هغوئي په حق کښې [واجِب] صَدَقه وه خو د هغوئي د قبضه کولو نه پس چې کله په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې وړاندې کړے شوي وه نو د هغې حکم بدل شو او اوس هغه صَدَقه نه وه. هُم دغسې يو حقدار کس زکوٰة په خپله قبضه کښې د اغستلو نه پس بل چا ته په تُحفه کښې ورکولے شي يا ئې د جُمات وغيره [په څه کار کښې د لګولو] د پاره وړاندې کولے شي ځکه چې د ذِکر شوي مُستحِق کس دا ورکول اوس زکوٰة نه دے. هَدِيّه يا تُحفه ده. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰه **د زکوٰة د شرعي حيله** کولو طريقه داسې بيانوي: د زکوٰة رقم د مړي په کفن دفن يا د جُمات په جوړولو کښې نه شي خرچ کولے ځکه چې [په دې کارونو کښې د لګولو د پاره] تملِيک فقير (يعني فقير مالِک جوړول) اونه شو. که په دې کارونو کښې ئې خرچ کول غواړي نو د دې طريقه دا ده چې **فقير** (د زکوٰة د رقم) مالِک کړئ او هغه دِ ئې (د جُمات په تعمير وغيره کښې) خرچ کړي، دغسې به ثواب د دواړو اوشي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۸۹۰)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! کفن دفن بلکه د جُمات په جوړلو کښې هم د حيلهٔ شرعي په ذريعه زکوٰة استعماليدے شي ځکه چې زکوٰة خو د فقير د پاره وو چې فقير پرې قبضه اوکړه نو هغه مالِک شو اوس چې پرې هغه څه کول غواړي کولے ئې شي. د حيلهٔ شرعي په بَرَکت د ورکولو والا زکوٰة هم ادا شو او فقير هم په جُمات کښې د ورکولو د ثواب حقدار شو. فقيرِ شرعي دِ د حيلے په مسئله بيشکه پوهه کړے شي.

## د فقير تعريف

**فقير** هغه دے ❖ چې هغه سره څه نه څه وي خو دومره نه وي چې نِصاب ته اورسي يا ❖ چې د نصاب په قدر خو وي خو د هغه په حاجتِ اصليه (يعني د ژوند په ضروورياتو) کښې ګير وي. مثلاً د اوسيدو کور، د کور لوښي او سامان، د سوَرلئ خاروے (يا اسکوټر يا موټر)، د کاريګرو اوزار، د اغوستلو جامے، د خدمت د پاره وِينزه، غُلام، د علمى شغل ساتلو والؤ د پاره اسلامى کتابونه کوم چې د هغه د ضرورت نه زيات نه وي. ❖ دغسې که مقروض [يعني قرضدار] دے او د قرضه وِيستلو نه پس نصاب پاتې نه شي نو هم **فقير** دے اګر که د هغه سره يو څه بلکه ډير نصابونه وي.

(بهارِ شريعت ج١ ص ٩٢٤، ردُّالمُحتار ج٣ ص ٣٣٣ وغيره)

## د مسکين تعريف

**مِسکين** هغه دے چې د هغه سره هيڅ هم نه وي تر دې چې د خوراک او بدن پټولو د پاره د دې **محتاجه** دے چې د خلقو نه سوال اوکړي او د هغه د پاره سوال کول حلال دي. **فقير** (يعني د چا سره چې کم نه کم د يوے ورځې خوراک او د اغوستلو د پاره څه موجود وي هغه) **له بغير د ضرورت او مجبورئ نه سُوال کول حرام دي.** (عالمګيرى ج١ ص ١٨٧، ١٨٨، بهارِ شريعت ج١ ص ٩٢٤)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې كوم سوالګر په ګټلو باندې قادر وي [يعني د ګټلو طاقت لري] او د هغې باوُجود بغير د ضرورت او مجبورئ نه د پيشے په طور خيرات غواړي [هغه] ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دے او څوک چې د داسې خلقو د حال نه خبردار وي د هغه د پاره دوئي له ورکول جائز نه دي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!   صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# پیر پیر ماران

په روایت کښې دي: د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکښې
د لمونځ پریښودونکو مخونه تور شي او په جهنّم کښې یو
ناو دی، هغې ته لَملَم وائي په هغې کښې د اوښ د څټ
په شان پیر پیر ماران دي. د هر مار اوګدوالې د یوې
میاشتې د فاصلې هُمره دی، چه کله هغه مار لمونځ
پریښودونکې اوچیچي نو د هغه زهر به د ده په بدن کښې
د اویاؤ کالو پورې جوش وهي. (الزواجر ج۱،ص۲۹۶)









MC 1288

فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net